دبیرونی دزیږیدنی دزرم تلین په‌ویاړ

# د تاریخ ټولنی کتابونه

د

حبیب الله رفیع

۱۳۵۱

دتاریخ اوادب ټولني سوغات

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032340 1

دتاریخ او ادب ټولنې — دافغانستان اکاډیمي
خپرونې: نمبر «۱۰۶» — خپرونې: نمبر «۱۴»

# د تاریخ ټولنې کتابونه

لیکونکی

**حبیب الله رفیع**

PROPERTY OF ACKU

خپروونکی

**دافغانستان اکاډیمي**
**دتاریخ اوادب ټولنه**

**۱۳۵۱**
**دکب میاشت**

**دولتي مطبعه** — **۵۰۰ ـ ټوکه**

# سریزه

د تاریخ ټولنی او ددی ټولنې دخپرو شویو آثارو علاقمندانو

تل هیله ښکاروله چې داټولنه او ددی ټولنی آثار دی په آریانا مجله

او یا یوه ځانګړی رساله کی معرفی شی خوشحرنګه چی دتاریخ ټولنی

زیات شمیر آثار په تاریخ ټولنه کې تمام شوی وو او حتی زموږ

په کتابخانه کی هم نه وو نو ځکه ددی آثارو را پیدا کولو او معرفی کولو

هاند، هڅواوکړاو زغملو ته اړه درلوده څو دا کار دتاریخ ټولنی

دیوه غړی له خوا ترسره شو او دا دی اوس یې په آریانا کی په خپرو لو

سربیره په دی ځانګړی رساله کی هم وړاندی کوو ، هیله ده چې

دا رساله به څه ناڅه د تاریخ ټولنی د علاقمندانو تنده ماته کړی •

**« دتاریخ اوادب ټولنه»**

ACKU

# تاریخ ټولنه

مخکی له‌دې چی دتاریخ ټولنی دخپر وشو وکتابونو پیژند ګلوی و ړاندې کړم ، لازم ګنم چی‌په خپله دتاریخ‌ټولنی **دمنځ‌ته** راتګ اوله ادبی انجمن ، پښتو ټولنی، دمطبوعاتو دریاست نه درا بېلېدو او دیوې بېلې ادارې په حیث دمنځ ته راتلو په باب خبری وکړم .

کله چې په ۱۳۱۰ ه لمریزکال په کابل کی د ادبی انجمن بنسټ کېښودل شو ، نوله هماغی ورځی نه د افغانستان دتاریخ څېړل ، راغوندول او خپرول ددې انجمن په مرام او تګ لارکی شامل وو او ددې انجمن په میاشتنی مجله « کابل » او« کابل کالنی» کی‌د افغانستان په تاریخ او تاریخی پېښو ګټوری مقالی شر و شوی چی په دې اساس د « تاریخ ټولنی » لومړنی بنسټ‌هماغه دادبی انجمن منځ‌ته را تګ بللای شوچی بیاور وسته یی په تاریخی مقالو سربېره ځینی تاریخی کتابونه هم نشر او خپاره کړل .

« ادبی‌انجمن » د ۱۳۱۰ ه کال دغبرګولی له ۱۵ نیټی‌څخه د کابل مجلی په خپر و لوسره د ۱۳۱٦ کال د غویی ترلومړی نیټی پورې په خپل شپږ کلن عمرکی د افغانستان د تاریخ په باب ډېرې ګټورې



ACKU

مقالی، مضمونونه او رسالی خپری کړی خصوصاً په کابل کالنی کی د هېواد مؤرخینو دافغانستان دتاریخ په برخه کی ډېر زیات او کتهور کار وکړ چی دهغی وخت کابل مجله او کابل کالنی لا تر اوسه هم د افغا نستان دداخلی او خارجی علاقمندانو له پاره مستند او په زړه پورې مأخذ ونه دی.

کله چی د ۱۳۱۶ کال د غویی په لومړی نیته د ادبی انجمن په ځای پښتو ټولنه جوړه شوه نوپښتو ټولنی هم د افغانستان تاریخ ټولونی او خپرونی ته دوام ورکړ او په خپلو ځلورگونو ځانگوکی یی دتالیف او ترجمی ځانگه د افغا نستان تاریخ لیکنی او ژباړنی ته وقف کړه (وگوری: د ۱۳۱٦ کال کابل کالنی) او ددې کال (۱۳۱٦) ترپایه پورې یی ۱۳ ټوکه کتهور تاریخی کتابونه او رسالی تیار او ځینې یی په ځانگړی ډول او یاد کابل مجلی او کابل کالنی په ترځ کی خپاره کړل چی نومونه یی دادی: «صنعت باختر»، «بگرام»، «سلطان محمود» «قلب آسیا»، «یسوعیان در افغانستان»، «تاریخ هرات»، «تاریخ اراضی خلافت شرقیه» «یوچی وکوشی شوانگ»، «مسکوکات افغا نستان»، «اشیای قدیم» «چنگیز و چنگیزیان»، «مواد متفرقه راجع به افغانستان»، «درامهٔ تاریخی مردان پارو پامیزاد». لهدې ځخه ځرگند یږی چی دپښتوټولنی د تألیف او ترجمی ځانگی (چی په حقیقت کی د تاریخ ټولنی لومړنی ستهوه) په دیره مینه او علاقه دافغانستان تاریخ راغونډولو او روښانولوته متی نغښتی وې.

د ۱۳۱۷ کال په کابل کالنی کی دپښتو ټولنی د تألیف او ترجمی ځانگه دتاریخ په ځانگه بدله شوې او ددې ځانگی وظیفه یی «دافغانستان

دتاریخ راغونډول او ددې هیواد دتاریخي پېښو او وقایعو روښانول»
بللی دی . دپښتو ټولنې د تاریخ مدیریت په ۱۳۱۷ کـال کی ٦ تنه
مسلکی کارکوونکی درلودل چی ښاغلی کهزاد یی دمدیر ، یعقوب-
حسن خان ( قریشی) یی دمرستیال ، عبدالباقی خان لطیفی یی دغړی ،
محمد عثمان صدقی یې دانګلیسی مترجم او عبد الخالق « ښادمن » یی
دمبیض په حیث و و . او په دې کال کی دې مدیریت دالاندې آ ثار لیکلی
او ژباړلی دی : « کتیبه‌های خروشتی ، مقدمه زند اوستا ، شهرهای معروف
**افغانستان** ، **امپراطوری** کوشان ، جانشینان **اسکندر** ، رهنمای تاکسیلا ،
نژاد افغانیان ، اشوکـا ، بودیزم در افغانستان ، عروج بارکزائی‌ها ،
ستوپه ها و آبدات افغانستان ، نگاهی به آریانای قدیم ، تاریخ آسیا ،
افغانستان قبل ا لتاریخ ، پښتو از نظر فقه اللغة » او په همدې کـال کی یی
د « بګرام » او « مسکوکـا ت قدیم افغانستان » کـتابونه خپاره کړ ی
دی (۱ ) ( دتفصیل لـه پاره وګـوریء : د ۱۳۱۷ کال کـابل کالنی
۴۸۵ تر ۴۹۰ مخو نه ) .

د ۱۳۱۸ کال دژمی په شر و کی د مطبوعا تو ریاست جوړ شو او
پښتوټولنه هم ددې ریاست په تشکیل کی راغله ، په دې کال کی دپښتو
ټولنی دتاریخ دمدیریت کارونو اودکار پروګرام ته نوې کتنه وشوه
او دلومړی ځل لـه‌پاره دهېواد دتاریخ دوره‌ې وویشلی‌شوی او دهېواد

---

(۱) کـه څه هم د ۱۳۱۷ کـا ل په کا لنی کی د تاریخ د مدیریت
په خپرونوکی د « هندوکش‌وکـابلستان » په نامه هم یوکتاب یادشوی
خو څرنګه چی د نشراتو د څانګی په کـار وکی نه دی یادشوی اوهم
یی چا پی نسخه ترلا سه نه شوه نو فـکر کېږی چی دا کتاب نه وی
خپور شوی .

وار دو لیکوا لو د تاریخ دپښتو - پښتو فصلونو په لیکلو پیل وکړ او ترتیب داؤ چی هرفصل به بی له ځنده په ځانګړی توګه کی خپرېږی چی دهرڅه نه مخکی دهېواد داسلام نه وړاندې تاریخ په پنځو فصلونو و ویشل شو او هم په دې کال کی ددې لاندې رسالو په لیکلو پیل وشو : «افغانستان قبل التاریخ ، مدنیت ویدی ، مدنیت اوستایی ، نژاد افغانیان ، زبان ها در افغانستان » او هم د ژباړ نو په برخه کی د « عروج بارکزائی‌ها، نګاهی به‌تاریخ آریانای‌قدیم او درساله‌آل‌میکال» ژباړ نه‌هم روانه وه ( وګوریء: د۱۳۱۸ کال کابل کالنی ۱۲۲ - ۱۲۳ مخونه) .

په ۱۳۲۰ کال کی‌دپښتوټولنی دتاریخ مدیریت‌د مطبوعاتوپه ریاست کی د تاریخ د عمومی مدیریت په‌حیث ومنل شو او په دې کال کی یی داسلام نه مخکی‌دوری په‌باب ۱۴ قلمه رسالی‌او مقالی‌و لیکلی‌او داسلام نه راوروسته دوروپه‌برخه کی یی ۹قلمه رسالی اومقالی تهیه کړې چی ټولی ۲۳ قلمه کېږی ( د تفصیل له پاره وګوریء : د ۱۳۲۰ کال کابل کالنی ۱۰۷ ، ۱۰۸ مخونه . )

همدا وخت ؤ چی تاریخ ټولنی ښل موجودیت ومونداو خپلی خپرونی‌یی‌ترپخوا مرتبی او منظمی کړې ، کتابونه او رسالی‌یی خپاره کړل او د آریانا مجلی په خپرولو یی کوټی پوری کړې بیا وروسته یی دافغانستان انګلیسی او فرانسوی مجله هم خپره کړه او دیوې اساسنامی په درلودلو سره یی په کار پیل وکړ چی دلته دتاریخ ټولنی دبشپړې تاریخچی لیکل بی‌مورده دی او دادی اوس دتاریخ ټولنی هغه ځانګړی آثار چی‌د کار له شروع نه‌تراوسه‌یی چاپ کړی په لنډ ډول معرفی کوم .

## یادونه :

ددې کتابونو دمعرفي په برخه کې ټولوته یو عمومي‌نمبرو رکړ شوی او چاپي نمبرونه یې هم ځای په ځای‌ښودل شوي‌دي. داهم‌باید ووایم چې دتاریخ‌ټولنې د کتابونو مسلسل نمبر نشته او دهر کډو دخپور شوی دی ، مثلاً ځینې کتابونه یې دخپرید و نمبرنه لري ، ځینې نور یې دخپریدوکال نه لري ، ځینې یې دوه کتابونه په یوه نومره او ځینې یې په نا مسلسل ډول یو په بل پسې خپاره شوي دي ، ما هڅه کړې چې د تخمین او اټکل له مخې د کتابونو نمرې سمې کړم او په لمن کې اشاره ورته وکړم ، ځینې رسالې داسې هم وې چې بیخي ترلاسه نه‌شوې او د فهرستونو له مخې مې یې نوم ولیکه او معرفي مې کړې .

څرنګه چې دکتابونو په پرله پسې نومره کې ډیره ګډوډ ی وه نو کیدا ی شي له ما نه هم په ځینې کتابونو کې سهوه شوی وي خو هیله ده لوستونکي به‌مې عذرومني . هغه سنې ، لیکنې او اعداد چې د کتا بو نو د مشخصا تو په بر خه کې په لیند یو ( ) کې لیکل شوي اټکلي او یاد آریانا مجلې په استناد دي‌چې د کتاب په اصلي پښتې‌کې نشته .

او هم له دې کبله چې دتاریخ ټولنې زیات شمیر آ ثار په دري‌دي نو ځکه یوازې‌له هغوکتابونو سره چې په پښتو، انګلیسي یا فرانسوي دي‌دژ بې یادو نه شوې ده .

دادی د تاریخ تولنی کتابونه له هغی و رځی نه چی په پښتو تولنه کی دتالیف او ترجمی او بیا دتاریخ دمدیریت په نامه منځ ته راغلی، معرفی کوم :

(۱)

## صنعت باختر

لیکونکی : موسیو ژوزف هاکن ، ژباړونکی : احمد علیخان کهزاد د پښتو تولنی د تالیف او ترجمی مدیر . خپروونکی : دپښتو تولنی د تألیف او ترجمی مدیریت ( دتاریخ تولنی لومړنی سته ) . د خپریدو کال : ۱۳۱٦ ھ ش : د خپرېدو نمبر : همدا د تاریخ تولنی لومړنی خپرونه بللای شو ، قطع : کوچنی .
موضوع : که څه هم کوچنی رساله ده او په دری او فرانسوی خپره شوې ، خودیره مهمه ده ځکه د کندوزله کشفیاتونه ورو سته ثابتوی چی د گریک او بودیک د صنعت دزیږیدو ځای د هندوکوه په شمال بکتریان کی دی (۱) .

(۲)

## آثار عتیقهٔ کوتل خیرخانه

لیکونکی : پروفیسر هاکن . ژباړونکی : سیدقاسم خان رشتیا. خپرونکی: د کابل ادبی انجمن . دخپریدو کال : ۱۳۱٦ ،

---

(۱) دارساله ماونه مونده مشخصات او موضوع می یی د۱۳۱٦کال دکابل کالنی له مخی ولیکل( وگوری : نوموړی کالنی ٥٥٦ مخ ).

دخپریدو ځای : عمومی مطبعه . نمبر : نه لری ( داتکل له مخې یې دوهم نمبر بللای شو). مخونه: ۵۱ قطع ۲۲ نیم × ۱۵ سا نتی متره .

مطالب : په څلورو فصلونوکې دخیرخانې دکیندنو طرزاو هغه تاریخې آثار چې د خیرخانې نه تر لاسه شوي ، معرفي شوي او دکیندنونقشې او دلاس ته راغلو آثارو عکسونه پکې خپاره شوي دي .

## (۳)

## بګرام

لیکونکی : احمدعلي خان کهزاد ، خپرونکی : د کابل ادبی انجمن ( پښتو ټولنه ، دتاریخ مدیریت . ) دخپریدو کال : ۱۳۱۷ د خپریدو ځای : عمومی مطبعه . نمبر : د تاریخ د څانګې «۳» عمومي « ۱۶ » . مخونه : ۱۰۸ قطع : ۱۷ نیم × ۱۱ نیم سا نتی متره .

مطالب : « د بګرام جغرافیایي طبیعي وضعیت ، دبګرام دخرابو اوسني وضع ، بګرام او ملي افسانې ، د اسلام نه مخکې افسانوکې د بګرام او د کاپیسا دنورو برخویاد ، بګرام په یوناني دوره کې ، بګرام په کوشاني دوره کې ، د بګرام بودایي معابد ، د بګرام تجارتي اوسیاسي وضعیت د پلټنو اوکیندنو نتیجې . »

## (۴)

## امپراطوري کوشان

لیکونکی : احمد علي کهزاد . خپرونکی : د پښتوټولنې د تاریخ

ځانګه . دخپرېدوکال ۱۳۱۷ عمومی مطبعه ۰ د خپریدو نمبر : دادبی انجمن عمومی « ۱۷ » د تاریخ د ځانګی« ۴ ».مخونه : ۵۳ قطع : ۱۷ × ۲۵ سم .

مطالب : د « عمومیات ، لوی کوشانیان ،دکنیشکا کورنی، کوچنی کوشانیان ، د باخترکوشانیان، د کابل کوشانیان ، له رومنیانو سره د کوشانی امپراطوری تجارتی روابط او... » ترعنا وینولاندې د کوشانیانو په باب په زړه پورې مطالب راغونډ شوی دی .

( ۵ )

## بامیان ( آثار عتیقه بودایی بامیان)

لیکونکی : موسیو اومادام ګودار او پروفیسرها کن. ژباړونکی : احمدعلیخان( کهزاد) . خپرونکی : د کابل ادبی انجمن ( دتاریخ مدیریت ) . د خپریدوکال : ۱۳۱۷ عمومی مطبعه . نمبر : نه لری ( دا تکل له مخی پنځم و بلل شو ) . مخونه : ۸۷ قطع : ۲۵ نیم × ۱۶ نیم سم . (۱)

موضوع : په دریو برخوکی: دبامیانو دتاریخی سمڅو او دبامیانو دتاریخی بتانو پهباب څیړنه ، دبامیانو په باب د ارو پائیانو نظریی ،

---

(۱) ددې کتاب په ننني پښتی کی دنامه نه را لاندې « دوهم ټوک » لیکل شوی خولو مړی ټوک یی له زیاتو پلټنوسره ـ سره ونه موندل شو او هم ځر نګه چی هیڅ ځای یی ذکر نشته فکر کیږی چی که په فرانسوی لیکل شوی وی هم ، ژباړل شوی به نه وی .

په باميانوکی دپلټنو اوکيندنوطرزه دباميانو په باب عمومی معلومات ، دباميانو په هکله دچينی زايرانو ياد داشتونه، ځينی محلی افسانی او نور را غونډ شوی دی .

## (٦)

## مسکوکات قديم افغانستان (قبل الاسلام)

ليکونکی : احمدعلی خان کهزاد، خپرو ونکی : ( دپښتو ټولنی دتاريخ مديريت ) دخپريدو کال : ١٣١٧ ، عمومی مطبعه. مخونه : ۴٠ مخه متن ، ١٢ مخه دسکوعکسونه .

مطالب : « ديونانی باختری پاچايانوسکی ، داسکايی سلاطينو سکی ، د سيستان اوکند هار دپهلوا يانو سکی ، د کوشانی پاچايانو سکی ، د هياطله پاچايانو سکی ، د نيکيانو يا کوچنيو کوشانيانو سکی ، دهند وکابلشاهانو سکی » (١) .

## (٧)

## حيات و اوقات سلطان محمود غزنوی

ليکونکی : دکتور محمد ناظم. دری کوونکی : عبدالغفور امينی ،

(١) دا رساله د ١٣١٦ کال په کابل کالنۍ کی خپره شوې خو ځوځا يې يې په ځينی فهرستونو کی ځا نکړې ياد ونه هم شوې نوځايې چی ځانګړې به هم خپره شوې وی خوما ونه موندلای شوه .

خپرو و نـکی: دپښتوتولـنی دتار یخ ځانګـه.دخپریدو کـال ۱۳۱۸ ، عمومی مطبعـه . د خپر یدو نمبر دپښتو ټولنی « ۲۹» دتار یخ دمدیریت « ۷ » مخونه : ۲۵۶ .

موضوع : دسلطان محمود غزنوی د ژوندانه پهبیلو - بیلو اړخونو او دده دو خت د بیلو بیلو کار و نو او اجتماعی او ضاعو په با ب یو ژو ر تحقیقی ا ثر دی .

## (۸)

## مسکوکات افغا نستان درعصر اسلام

لیکو نـکی : احمد علی کهزاد . خپرو و نـــکی: د تار یخ عمومی مدیر یت . دخپر یدو کـال: ۱۳۱۹ (۱) عمومی مطبعه . نومره: دتار یخ دمدیریت« ۷» (۲) مخونـــه : ۲۰ قطـــع : ۲۲ × ۱۵ نیم سم .

موضوع : د سامانیانوله دورې نه دامیر عبدالرحمن خان تر و ختـه پورې د لاس ته را غـلو سکو سجعی ، تا ریخونه ، د مخ او شـا لیکـنی او نور مشخصات او مختصات .

---

( ۱ ) د ارساله دخپر یدوکال نه لر ی خو ځر نګه چی په همدې کال په کا بل کالنی کی هم خپر ، شوې نو فکر کیږی چی په همدې کال به خپره شو ې و ی .

(۲) ځر نګه چی دحیات و او قات ... د خپریدو نمبر هم « ۷» دی نوځکه د دې کتاب نو مر ه «۸» ولیکله شوه .

## (۹)

## آریانا

لیکونکی : احمد علی کهزاد · خپرو ونکی : د تاریخ عمومی مدیریت . دخپریدو کال : ۱۳۲۱ عمومی مطبعه .دخپریدو نمبر «۸»(۱) مخونه : ۱۴۸ قطع : ۱۸ نیم×۱۲ نیم‌سم.

مطالب : « ریشیان ( شاعران ) او دقومی رو حیاتو روزنه ، آریا داسیو ، دآریامپنه ، داوستایا دونی ، آریاناویجه ، په‌ځینی نوموتوکی دآریا ریښه ، آریان ، آریانا او دیونان‌لرغونی‌لیکوال ، دآریاناولایات ، د آریانااو سیدونکی ، دآریانا ښاروته ، آریا اوآریانا ، آریانی ، آریانا اوارو پایی لیکونکی په اتلسمه او نولسمه پیړۍ‌کی »

## (۱۰) ✓

## احمدشاه بابای افغان

لیکونکی : میرغلام‌محمد غبار . خپرو ونکی : د تاریخ مدیریت . د خپریدو کال : ۱۳۲۲ . دخپریدو نمبر : د تاریخ ټولنی « ۱۰ » دمطبوعاتو در یاست «۹۲». مخونه : ۳۵۲ . قطع : ۱۵ × ۲۱ سم.

موضوع : په ۳۸ فصلونوکی دلوی افغانستان دجوړو ونکی ، لوی امپراتور ، لوی‌احمدشاه دژوندانه بیل ، بیل ارخونه ، سفرونه ، لښکرکشی او د ده ددورې سیاسی ، اقتصادی او اجتماعی اوضاع .

---

(۱) دانومره هم دپورتنی نومری په اساس سمه شوه .

## (۱۱)
## فصلی از خلاصة الاخبار

مؤلفهٔ : خوند میر ( متوفی ۹۴۲) . تصحیح ، مقدمه ، حواشی : سرو ر گـویا اعتمادی . خپر وو نکی : د تا ریخ عمومی مدیریت . د خپرېدوکال : ۱۳۲۴ عمومی مطبعه . د خپرېدو نمبر : نه لري ( د اتکل له مخی ۱۱ و بلل شو ) . مخونه ۷۹

مطالب : « دهرات د دار السلطنه ځینی ستاینی ، د هرات با غونه او بنونه ، دسلطان بایقرا معاصر مشایخ او سادات ، دسلطان حسین بایقرا معاصر عالمان ـ فاضلان او شا عران، د بایقرا د وخت ځینی خوشنویسان ، د بایقرا دوخت ځینی نقاشان او مهند سان ، د بایقرا دو خت ځینی سندرغاړی او د موسیقی ماهران . »

## (۱۲)
## رتبیل شاهان

دا رساله هم په فهرستو نوکی دتاریخ تولنی له خپرو نو څخه بلله شوې خو ما یی کـومه نسخهو نه موندله چی بشپړه پیژند گلوی مې یی لیکلی وای نو ځکه یی یوا زی یا د ونه کو م او د تاریخ تولنی د کـتابونو په لست کی یی نیسم .

## (۱۳)
## تاریخ افغانستان
## ( لومړی توک )

لیکونکی : احمدعلی کهزاد او محمدعثمان صدقی . خپرو نکی :

( د تاریخ عمومی مدیریت ) . د خپرېدو کال : ۱۳۲۵ (۱) .
دخپرېدو نمبر : نه لري ( داتېکل لـه مخې ۱۳ تومره وبلل شو ) .
مخونه : ۴۹۵ قطع : ۱۸ × ۲۴ سم .
موضوع : په پنځو فصلونو کې لرغونی افغانستان ، په هر اړخیز دول ځېړل شوی او د څېړنې سلسله يې په آريانا باندې د اسکندر تر چپاوونو پورې را رسېدلې ده چې د افغانستان د اسلام نـه مخکې دوررو په باب يوبې جوړې اثر دی .

## (۱۴)

## تاریخ افغانستان

## ( دوهم ټوک )

ليکوونکی : احمدعلی کهزاد . خپروونکی : ( دتاريخ عمومی مدیریت ) .
دخپرېدو کال او ځای : ( ۱۳۲۵ ، عمومی مطبعه ) . دخپرېدو نمبر :
نه لري ( د اتېکل له مخې ورکړی شـو ) مخونه : ۶۰۰ قطع :
۱۷ × ۲۴ سم .
موضوع : په آريانا کې ديونانو باختری د ځانګړې ټولواکـۍ له شروکېدو او نه د اسلام ترظهوره پورې د افغانستان سياسی ، اجتماعی ، دينی ، تهذيبی ، ادبی ، صنعتی او اقتصادی اوضاع ،

---

(۱) د کتاب په پښتۍ د خپرېدو کال نشته ، پورتنۍ سنه د آريانا مجلې د ۱۳۲۵ کـال د کښو په سندو ليکله شوه .



ACKU

## (۱۵)

## کنیشکا

لیکونکی: احمدعلی کهزاد. خپرونکی: دتاریخ عمومی‌مدیریت. د خپریدوکال: ۱۳۲۵، عمومی مطبعه. دخپریدو نمبر: «۱۵» مخونه: ۲۴ قطع: ۱۲ × ۱۷ سم.

موضوع: د کنیشکا په ژوند انه یوه لنده خو مستنده اوژوره رنبا اچوله شوې او د ده د امپراتورۍ په دوره خبرې شوې دی.

## (۱۶)

## آبدات نفیسه هرات

لیکونکی: سرورگویااعتمادی. خپرونکی: دتاریخ‌عمومی‌مدیریت. د خپریدوکال: ۱۳۲۶، (۱) عمومی مطبعه. د خپریدو نمبر: «۱۶» مخونه: ۳۶ قطع: ۱۶ نیم × ۲۵ سم.

موضوع: د هرات د تاریخی آثارو په باب یو تحقیق دی چې د محمد شفیع خان لاهوری په وسیله په اورینتل کالج مگزین کی په اردو خپور شوی او مرحوم گویا له ځینی زیاتونو سره په دری اړولی دی.

---

(۱) د خپریدوکال یی په اصل کی ۱۳۱۶ ښودل شوی خو ځرنگه چې په ۱۳۱۶ کال کی د تاریخ عمومی مدیریت نه ؤ جوړ شوی نو دپرله پسی نومرې له مخی یی د خپریدوکال ۱۳۲۶ و لیکل شو.

## ( ۱۷ )
## خراسان

لیکونکی : م ، غبار ، خپروونکی : د تاریخ عمومی مدیریت د آریانا مجلی څانګه . دخپرېدوکال : ۱۳۲٦ ، عمومی مطبعه . د خپرید و نمبر : د آریا نا مجلی د څانګی «۱» . مخونه : ۴٦ قطع : ۱۲ × ۱۷ نیم سم .

موضوع : دخراسان نوم او دهغه موقعیت ، تاریخی سوابق او نور مربوط معلومات .

## ( ۱۸ )
## تاریخ افغانستان
## ( دریم ټوک )

لیکونکی : م ، غبار او علی احمد نعیمی . خپرو ونکی : د تاریخ مدیریت . د خپرېد و کـال ۱۳۲٦ ، عمو می مـطبعه . د خپرید و نمبر : نه لری . مخو نه : ۱۵۰ قطع: ۱۷ × ۲۲ نیم سم .

مو ضوع : په افغانستان کی داسلام اودعربو نفوذ ، دطاهریانو تر سقوطه پورې . دا په حقیقت کی د افغانستان د عمومی تاریخ د دریم ټوک لومړی دوه فصلونه دی چی لـکه دنورو فصلونو غوندې یی په یوه دوتنه کی خپاره شوی .

## ( ۱۹ )
## نینواز

ویونکی : ضیاء قاریزاده . خپرو ونکی : انجمن تاریخ

افغانستان . دخپرېدوکال ( ۱۳۲۷ ) . دخپرېدو نمبر : نه لري . مخو نه ۱۸ قطع : ۱۷ نیم × ۲۲ نیم سم .

موضوع : دیوشمېر مربع شعرو نو مجموعه ده چې ځینې تاریخي مواد او مطالب هم پکې خوندي شوي او تاریخي پېښوته اشاري پکې شوي دي . و ایي چې نینواز دو هم محل هم تاریخ ټولنې خپور کړی خوما یې کومه نسخه و نه مونده .

## (۲۰)

## سکندر په افغانستان کې

## ( فرانسوي )

لیکونکی : احمد علي کهزاد : خپرو ونکی : تاریخ ټولنه . دخپرېدوکال : ۱۹۴۶ ، عمومي مطبعه . دخپرېدو نمبر نه لري . قطع : ۱۷ × ۲۶ نیم سم . مخونه ۳۱ .

موضوع : افغانستان‌ته دیونانی سکندر دراتلو او په افغانستان باندې دیو نانیانودتیري ، دلته ددوی دپاتې کیدلو او دیونانو باختري کلتور په باب‌خبرې‌پکې شوی‌دي،

## (۲۱)

## صورتگران وخوشنویسان هرات

## در عصر تیموریان

مؤلف : علي‌احمدنعیمي. خپرو ونکی : انجمن تاریخ‌افغانستان،



ACKU

دخپرېدو کال : ۱۳۲۸، عمومي مطبعه. دخپرېدو نمبر : « ۱۹ ».(۱)
مخونه : ۱۲۴ قطع : ۱۷ نیم×۲۵ سم .

موضوع : په دوو برخوکې د هرات نقاشان او خطاطان د الفبا په ترتیب معرفي شوي اوپه سریزه کې دهرات پېژند گلوي شوې ده .

(۲۳)

## افغانستان در قرن نزدهم

مؤلف : سید قاسم رښتیا . خپرونکی : انجمن تاریخ افغانستان. دخپرېدوکال : ۱۳۲۹ ، عمومي مطبعه ( لومړی طبع ) . د خپرېدو نمبر : « ۱۹ » . مخونه : ۲۵۶ .

موضوع : دنولسمې پېړۍ لهشروع تر پایه پورې دسدوزیو او محمد زیو کورنۍ شخړې ، په افغانستان باندې دا نگریزانو دوه لومړنۍ تیرې ، دبهلو، بهلو پاچایانو د سلطنت دورې او ددې پېړۍ نورې پېښې پکې څېړل شوې دي.

(۲۳)

## اکبر نامه

دحمید کشمیري منظوم اثر . لمنې : دعلي احمد نعیمي. تصحیح : دمحمد ابراهیم خلیل. خپرونکی : انجمن تاریخ. دخپرېدو کال ۱۳۳۰

---

(۱) لهدې نمبرنه تر « ۸۰» نمبرپورې د تاریخ ټولنې دخپرونو سلسله گڼه شوې او په « ۸۰» نمبر بېرته زماله خوا ورکړه شوې نومره او چاپي نومره سره سمېږي .



ACKU

عمومی‌مطبعه .د خپریدو نمبر «۲۰» مخونه : ۲۴۶ قطع ۱۶×۲۶سم.

موضوع : دنولسمی پیری دلومړی نیمایی په وروستی لسیزه کی دوزیر اکبرخان لونورو ملی مجاهدینو د مبارزو هغه یاد دی چی دانګریزانو په‌ایستلو کی یی کړی او دلومړی ځل لپاره یی دانګریز نه‌ماتیدونکی قوت‌ته ماته ور کړی ده .

## (۲۴)
## درزوایای تاریخ معاصر افغانستان

مؤلف ، احمدعلی کهزاد . خپروونکی انجمن تاریخ . د خپرېدو کال : ۱۳۳۱ ، عمومی مطبعه . د خپریدونمبر : د تاریخ تولنی «۲۱» د مطبوعاتو د مستقل ریاست دنشراتو «۲۰۵» .مخونه: ۱۴۸ قطع : ۱۷ نیم × ۲۶ سم.

مطالب : دبارکزیو اوسدوزیو همکاری او رقابت ، د کشمیر افغانی حاکمان ، له‌عطامحمدخان‌بامیزایی سره دوزیر فتح خان‌جګړه دغزنی محاصره ، د کابل شورش څنګه دملی قیام بنه غوره کړه د کابل تخلیه او دننګر هار په‌لور دالفنستن دلښکر په‌شا تلنه ، دمحمد اکبرخان غازی کرکتر او دبندیانو سره‌دهغه رویه ، دجلال‌آبا دجګړه ، دشاه شجاع مړینه ، دامیردوست محمدخان دسلطنت په‌لومړیو کلونو کی دپېښوری‌او کندهاری ورو نو تهدید او له ختیځ او لویدیځ څخه د رنجیت سنګه او شاه شجاع نقشی » دا اثر د افغانستان د معاصر تاریخ دځینو مهمو پیښو په باب بیلی ــ بیلی ۸ مقالی دی چی په یوه توک کی را غونډی‌شوی دی .

## (۳۵)

## پرده نشینان سخنگوی

مؤلف : ماگه رحمانی. خپرونکی : انجمن تاریخ. د خپریدو کال : ۱۳۳۱ ، عمومی مطبعه . دخپریدو نمبر : د مطبوعاتو «۲۰۶» دتاریخ ټولنی «۲۳» : مخونه: ۹۲ قطع : ۱۶×۲۴ نیم سم .

موضوع : په پنځو فصلو نوکی د دری دکن شمېر شاعراتو یوه تذکره ده چی ددوی دژوند په پیښو سربېره یی ددوی دشعر و نونمونی هم راوړی دی.

## (۳۶)

## رسالهٔ ابن سینا

دا رساله په کابل کی دا فغانستان دلوی طبیب او نامتو فیلسوف شیخ الرئیس ابوعلی سینا د کلیزی په مناسبت دتاریخ ټولنی له خوا خپره شوې او دهیوادد دې لوی شخصیت په باب یی معلومات پکی لیکلی دی ، ما یی یوه نسخه پخوا لیدلی وه خود دې فهرست په لیکلو کی مې تر لاسه نه شوه .

## (۳۷)

## نوای معارك

تألیف : میرزا عطا محمد. خپرونکی : انجمن تاریخ . دخپریدو کال : ۱۳۳۱ ،عمومی مطبعه . د خپریدو نمبر : د انجمن

تاریخ « ۲۳ » دمطبوعاتو دمستقل ریاست دنشرا تو « ۲۰۶ » . مخونه : ۲۲۹ قطع : ۱٦ نیم × ۲۵ نیم سم .

موضوع : د نولسمی پېړی په شرو کی د سدو زیو ا و محمد زیو تر منځ شخړې او ځینی نورې پېښی پکی څېړل شوی دی .

**( ۲۸ )**

## رجال وروید ادهای تاریخی

مؤلف : احمد علی کهزاد . خپرو ونکی : انجمن تاریخ . دخپریدو کال : ( ۱۳۳۱ ) ، عمومی مطبعه . دخپرېدو نمبر : دانجمن تاریخ « ۲۴ » ، د مطبوعاتو د مستقل ریاست « ۲۰۷ » . مخونه : ۱۴٦ قطع : ۲۵ × ۱٦ سم .

موضوع : په ۴٦ مقالو کی له احمد شاه بابا نه را وروسته تر امیرشیر علیخان پورې دافغانستان دتاریخ ځینی پېښی په ځانگړو مقالو کی لیکلی شوې دی .

**( ۲۹ )**

## لشکر گاه

لیکو نکی : احمد علی کهزا د ، خپر و ونکی : انجمن تاریخ . دخپرېدو کال : ۱۳۳۲ ، عمومی مطبعه . د خپرېد و نمبر : دتاریخ ټولنی « ۲۵ » ، د مطبوعا تو دریاست « ۲۰۸ » . مخو نه : ۱۵۲ قطع : ۱۵ × ۲۱ نیم سم .

مطالب : « لښکرگاه څه وخت او څنگه کشف شوه ، د لښکرگاه

کیندنی ، ابنکرگاه او بست دفرخی له نظره ، د ابنکرگاه سلطنتی کشک دعنصری له خولی، دهېر مند په او بوبهری چلول، دابنکرگاه دمانی رنگه د یوالی انځورونه ، د ابنکرگاه جامع جوماټ ، دغزنی پاچایان او ښکار ، په ابنکرگاه کی دغزنوی مسعود څو میاشتنی ژوند، دلبنکر گاه شرو ، عروج را لویدل اوله منځه تلل . »

( ۳۰ )

## جوان فدائی

لیکونکی : عبدالجلیل پروانی فقیر. خپرونکی : انجمن تاریخ . د خپریدو کال او ځای: ( ۱۳۳۳ ) ، عمومی مطبعه . د خپر ېدو نمبر : نه لری.مخونه : ۲۰ قطع : ۱۳ نیم × ۱۷نیم سم .

موضوع : په دریو برخو کی دیوه سرتیری افغان سپاهی دژوند خوږ داستان دی چی په افغانستان باندې دانگر یزانو دلومړی تجاوز په وخت کی په مېړانه جنگیدلی او دوطن په لاره کی یی خپل سر قربانی کړی دی .

( ۳۱ ) ✓

## تیمورشاه درانی

لیکونکی : عزیز الدین وکیلی فوفلزائی . خپرونکی: انجمن تاریخ افغانستان . دخپرېدو کال : ۱۳۳۳ ، عمومی مطبعه .دخپرېدو نمبر : « ۲۷ » ، مخونه : ۵۲۷ قطع: ۱۶× ۲۷ سم .

موضوع : دتیمورشاه درانی دژوندتولی پېښی پکی راغلی، دده معاصرین پکی پېژندل‌شوی او دده د وخت مدنی او سیاسی او نور معلومات پکی راغونډ شوی دی .

(۳۲)

## عروج بارکزائیها

مؤلف : ادوارد لایسس پیرس. ژباړونکی : عبدالرحمن پژواک او محمد عثمان صدقی. خپرونکی : انجمن تاریخ . د خپرېدو کال : ۱۳۳۳ عمومی مطبعه. دخپرېدو نمبر : «۲۸» . مخونه : ۱۸۳ قطع : ۱۸ × ۲٦ سم .

موضوع : په لسو فصلو توکی « دبارکزائی سردارانو دنیکونو» په سر لیک شروشوی او وروستنی عنوان یی « دافغانستان وروستنی بنه » دی ، په نورو فصلونوکی یی : « د تیمورشاه سلطنت ، دزمان شاه سلطنت ، د محمود شاه لومړنی هیوا د پرا خونه ، د محمود شاه دوهم سلطنت ، د دوست محمد خان تدریجی وړاندې تګ او امارت ته ر سېدل ، په هندباندې د انګلیس دیرغلونو علتونه او دانګلیس یرغلونه » ترسر لیکونو لاندې مطالب راغلی دی .

(۳۳)

## واقعات شاه شجاع

لیکونکی : دلومړی او دوهم دفتر : په‌خپله‌شاه‌شجاع ، ددریم‌دفتر محمدحسین هراتی . خپرونکی : انجمن‌تاریخ . دخپرېدو کال : ۱۳۳۳ ، عمومی مطبعه . دخپرېدو نمبر«۲۹» . مخونه : ۱٦۲ قطع : ۱٦×۲٦ سم .

موضوع : د شاه شجاع د سلطنت د دوری پېښې پکی څرګندې‌شوی چی دوه دفتره یې په‌خپله شاه‌شجاع لیکلی‌دی او ددی‌دوری دنورو

مآخذ و په دله کی استفا ده تری کیدای شی

PROPERTY OF ACKU 32340

( ۳۴ )

## سرخ کوتل

د : احمد علی کهزاد او شلوم برژه . خپروونکی : انجمن تاریخ افغانستان . د خپریدوکال : ۱۳۳۳ ، عمومی مطبعه . د خپریدو نمبر : « ۳۰ » . مخونه ۲۱ قطع : ۱۷×۲۶ سم .

موضوع : دسرخ کوتل داورتون ( آتشکدی ) په باب په دو تو برخوکی دښاغلی احمدعلی کهزاد او دنامتو مستشرق فقید دانیل شلوم برژه دوی کتبو ری مقالی دی چی په یوه توکث کښی خوندی شوی دی .

( ۳۵ )

## سلطنت غزنویان

لیکوونکی : استاد خلیلی . خپروونکی : انجمن تاریخ افغانستان . د خپریدو کال : ۱۳۳۳ ، عمومی مطبعه . دخپریدو نمبر : « ۳۱ » مخونه : ۳۷۰ قطع : ۱۷ × ۲۵ سم .

موضوع : په ۲۲ فصلونوکی دغزنوی کورنی واکمنان معرفی شوی ، دد ی وخت جګړې یادې شوی ، ددی وخت ادبی اوضاع او ادیبان معرفی شوی ، ددې وخت علماء ، عرفاء او بالاخره دغزنی دتسمیی وجه ، دسلطان زیارت او دغزنی تاریخی آثار معرفی شوی دی .

( ۳۶ )

## منتخب اشعار استادخلیلی

ویونکی : استادخلیلی . خپروونکی : انجمن تاریخ ، دخپریدو

کال : ۱۳۳۳ ، عمومی مطبعه . دخپرېدو نمبر : نه لری. مخونه : ۸۳ قطع : ۱۷ × ۲۲نیم سم .

موضوع : د استاد خلیلی دچاپ شوو شعر و نو مجموعه ده چې دهېواد دګنو خطاطانو په‌قلم لیکله شوې او دعمومی مطبعی دآفسیټ په څانګه کې خپره شوې ده .

( ۳۷ ) ✓

## از سروبی تا اسمار

لیکونکی : احمد علی کهزاد . خپرو ونکی : انجمن تاریخ . د خپرید و کال : ( ۱۳۳۴) عمو می مطبعه . دخپر ېد و نمبر : « ۳۲ » مخونه : ۲۷ قطع : ۱۴نیم × ۲۰ سم .

موضوع : د هند وکش د تهذیب یوه پانه‌او دسرو بی‌او اسمار ترمنځ دواقع شویو تاریخی ځایونو په باب خبری او دلته‌دمؤلف دپنځه و رځنی سفر یاد داشتو نـــه او لیدنی کتنی .

( ۳۸) ✓

## فیض قدس

د : استادخلیلی . خپرو ونکی : انجمن تاریخ . دخپریدوکال : ۱۳۳۴ ، عمو می مطبعه د خپرېدو نمبر : « ۳۳ » . مخونه : ۱۰۲ قطع : ۱۷ × ۲۵ نیم سم .

موضوع : په دې رساله کی دمیرزا عبد القادر بیدل دژوندانه په ځینی ارخونو رڼا اچوله شوې ده .

## (۳۹)
# پادشاهان متأخر افغانستان
## (لومړی ټوک)

تألیف : میرزا یعقوب‌علی‌خافی ، خپروونکی : انجمن تاریخ ، دخپریدوکال : ۱۳۳۴ ، عمومی مطبعه . د خپریدو نمبر : « ۳۴ » . مخونه : ۲۴۶ قطع : ۱۷ نیم × ۲۶ سم .

مطالب : په دې کتاب کی د محمد زایی پاچا یانو حالات له امیر دوست محمد خان تر امیرعبد الرحمن خان پورې را غلی او خوندیی په دې کی دی چی اکثره یی په خپله د مؤلف دسترگو لیدلی پېښی دی چی په ټولو ځایوکی حاضرؤ او بیا و روسته یی دجلا و طنی په وخت په بخارا کی دخپلو یادداشتونو په لیکلو پیل کړی دی .

## (۴۰)
# رهنمای بامیان

لیکوونکی : احمد علی کهزاد . خپروونکی : انجمن تاریخ ، دخپرېدوکال : ۱۳۳۴ ، عمومی مطبعه . دخپرېدو نمبر : «۳۵» . مخونه : ۵۰ قطع : ۱۶ نیم × ۲۶ سم .

مطالب : « دگرځندوی لەپلوه دبامیانو اهمیت ، جغرافیایی‌موقعیت ، دکاروان تلولار ، دنامه وجه ، دتاریخ نه وړاندې تاریخي لنډیز ، د بودا ۳۵ متره بت ، دبودا ۵۳ متره بت ، نوربتان ، ککرک ، د چینی زوارلید نی کتنی ، غلغله ، د بامیان په زړه پورې ځایونه ، ضحاک ، سرخشکک او ..... »

## ( ۴۱ )

## رهنمای بامیان

## (انگلیسی)

لیکونکی: احمدعلی کهزاد، خپروونکی: انجمن تاریخ. دخپریدو کال: ۱۳۳۴، عمومی مطبعه، دخپریدو نمبر: «۳۶». مخونه: ۱۲ قطع: ۱۷ نیم× ۲۵ سم.

موضوع: دخارجی‌سیا حانو او علاقمند انو له پاره دبامیانو لار ښود، او په انگلیسی ژبه دهغوی له پاره دبامیانو آثار معرفی شوی دی.

## (۴۲) ✓

## برگهای خزانی

ویونکی: خلیلی (خلیل‌الله‌خان). خپرونکی: انجمن تاریخ، دخپریدوکال: ۱۳۳۴، عمومی مطبعه، د خپرېدو نمبر: «۳۷». مخونه: ۶۲ قطع: ۱۵ نیم × ۲۱ نیم‌سم.

موضوع: داستاد خلیلی د څلوریزو یوه کوچنۍ مجموعه ده چی په ښکلی خط په آفسیتی دول خپره شوې ده.

## (۴۳) ✓

## صفاریان

لیکونکی: میرمحمد صدیق فرهنګ. خپرونکی: انجمن‌تاریخ، دخپرېدو کال او ځای ۱۳۳۴، عمومی‌مطبعه، دخپریدو نمبر: «۳۸». مخونه: ۴۰ قطع: ۱۷ ×۲۴ سم.

موضوع : په دریمه هجری پېړۍ کې په افغانستان کې دصفاریانو د تولو اکمنۍ پېښې او اوضاع څېړل شوې او په حقیقت کې د افغانستان دعمومي تاریخ دبېلو - بېلو دورونه یوه دوره ده چې دهېواد په مؤرخینو ویشلې شوې وې .

## (۴۴)

## ساما نیان

لیکونکی : احمد علی محبی ، خپرونکی : انجمن تاریخ ، دخپرېدوکال : ۱۳۳۴ ، عمومی مطبعه ، دخپرېد ونمبر : «۲۰» . مخونه : ۱۱۴ قطع : ۱۶ نیم × ۲۴ نیم سم .

موضوع : دساما نیانو د دورې تاریخ دی چې د افغانستان دعمومي تاریخ د دریم ټوک یو څپرکی دی او په یوازې ډول هم خپور شوی .

## (۴۵)

## دافغانستان پخوانی تاریخ
## (لومړی ټوک)

لیکونکی : احمدعلی کهزاد او محمدعثمان صدقی ، پښتو کوونکی : محمدیونس مراد ، عتیق الله معروف ( پژواک ) ، غلام جیلانی جلالی ، قیام الدین خادم . خپروونکی : د تاریخ انجمن ، د خپرېدوکال : ۱۳۳۴ ، عمومی مطبعه ، دخپرېدو نمبر : «۲۱» . مخونه : ۵۳۵ قطع : ۱۷ نیم × ۲۵ نیم سم .

موضوع : د افغانستان د اسلام نه مخکی دوره پکی څیړله شوې او د آریانا په روښانه مدنیت ، کلتور او د آریائیانو دژوندانه په نورو اړخونو څبرې شوې چی دری متن یی له دې نه مخکی تاریخ ټولنی خپور کړی دی ،( وګوریء: ددې معرفی ۱۳ نمبر خپرونه . )

## (۴٦) ✓

## ګلشن امارت

مؤلف: نورمحمد نوری . خپرونکی: انجمن تاریخ افغانستان. د خپر یدو کال: ۱۳۳۵ ، عمومی مطبعه . د خپر یدو نمبر : « ۴۲ » . مخونه : ۱۸۸ قطع: ۱۷ نیم × ۲٦ سم.

موضوع: په دې کتاب کی دشپږو ګلشنونو او ۴۳ ګلونو په ترڅ کی د امیرشیر علیخان د کوچنیتوب ، ځوانی ، لومړی سلطنت او دوهم سلطنت دځولومړ یو کلونو او دده دژوند نورې پیښی خوندی شوې دی او د امیر شیرعلیخان له زیږید و ( ۱۲۳۷ هـ ق ) کال نه تر ۱۲۸۷ هـ کال پورې پیښی یی څیړلی چی دامیر شیر علیخان د دوهمی یوولس کلنی پاچهی ۹ پاتی کلونه نه دی پکی راغلی .

## (۴۷) ✓

## خواجه عبدالله انصاری
## (فرانسوی)

لیکونکی: بورکوی . خپرونکی : تاریخ ټولنه ، دخپر یدو کال :

۱۹٦٥ ع ، عمومی مطبعه، ( ۱۳۳۵ ) . دخپرېدو نمبر : « ۴۲ ».
مخونه: ۱٦ قطع : ۱٦ نیم × ۲٦ نیم سم .
موضوع : دخواجه‌عبدالله‌انصاری په ژوندا وافکار ولنده‌رڼا اچوله شوې‌ده.

(۴۸)

## هوتکی‌ها

مؤلف : عبد الرؤف بېنوا . خپرو ونکی : انجمن تاریخ .
د خپرېدو کال ۱۳۳۵ ، دولتی مطبعه ، د خپرېدو نمبر : « ۴۳ » .
مخونه : ۱۷۷ قطع : ۱۷ × ۲۵ سم .

موضوع : په او وبرخو کی دهوتکیانو دسلسلی له شرونه ددوی دتولواکۍ ترسقوطه‌پورې دافغانستان د دې روښانه دورې تاریخی پېښې څېړلی شوې او د دې وخت په حربی ، سیاسی ، اجتماعی ، ادبی او نورو او ضاعو رڼا اچوله شوې ده .

( ۴۹ )

## رجال و رویدادهای تاریخی
## ( انگلیسی )

لیکونکی : احمد علی کهزاد : خپرو ونکی : تاریخ ټولنه .
دخپرېدو کال : ( ۱۳۳۵ ) د خپرېدو نمبر « ۴۴ » . مخونه : ۱۷۹
قطع : ۱۷ نیم × ۲٦ نیم سم .

موضوع : دښاغلی کهزاد دهغو ۴٦ تاریخی مقالومجموعه ده چې د « رجال و رویداد های تاریخی » په نامه په دری ژبه خپور شوی او په همدی فهرست کی معرفی شوی دی.



ACKU

( ۵۰ )

## یکمرد بزرگ

لیکوونکی: محمدابراهیم خلیل. خپروونکی: انجمن تاریخ افغانستان د خپریدوکال: ۱۳۳۵، دولتی مطبعه. د خپرېدو نمبر: « ۴۵ » مخونه: ۷۲ قطع: ۱۲ × ۱۹ نیم سم.

موضوع: دشیخ سعدالدین‌عارف کابلی انصاری چی دپای‌منار حاجی صاحب په‌نامه‌مشهور دی، دژوند پېښی او دمنظومو او منثورو آثارو نمونی پکی راغلی دی.

( ۵۱ )

## دافغانستان لنډ کی تاریخ

### (انگلیسی)

لیکوونکی: (پوهاند) محمد علی (میوندی). خپروونکی: تاریخ تولنه. دخپرېدوکال: (۱۳۳۶) د خپرېدونمبر: «۴۶». مخونه: ۲۸ قطع: ۱۷ نیم × ۲۵ نیم سم.

موضوع: د افغانستان د تاریخی پېښوا و د سلاطینو دکورنیو او سلطنت د دورو لنډیز.

( ۵۲ )

## آریانا یا پخوانی افغانستان

### ( انگلیسی )

لیکوونکی: پروفیسور محمد علی ( میوندی ). خپروونکی:

تا ر یخ ټو لنه . د خپر ېد وکا ل : ۱۳۳٦ ، د و لتي مطبعه .
دخپرېدو نمبر : « ۴۷ » . مخو نــه : ۱۱۸ قطـع ۱۷ نیم × ۲٦ نیم سم .
موضوع : دلرغوني افغانستان دپېلوـ بېلو برخو او دآ ریاڼیانودډ و ند
او ... او ار څو نو په باب څېړنه شوي او دهیواد په د ې ر ونه مدنیت
ر نا اچوله شوې ده .

## (۵۳)
## تاریخ افغانستان
## (دریم ټوک)

لیکونکي : م : غبار ، علي احمد نعیمي ، میرمحمد صدیق فرهنګ
احمد علي محبي ، خلیل الله خلیلي . خپرو ونکي : انجمن تاریخ .
د خپرېد وکال : ۱۳۳٦ ، دولتي مطبعه . دخپرېدو نمبر : « ۴۸ »
مخونه : ٦٦۹

موضوع : « په افغانستان کې د اسلام خپرېدل او د عربو نفو ذ ،
طا هریان ، صفا ریان ، ساما نیا ن او غزنو یا ن » پکې څېړل شوي
د دې ټوک د افصلونه په بېلوـ بېلو رسا لوکی هم خپا ر ه شوي چې په
همدې ر ساله کي مود ر و پېژ ند ل .

## (۵۴)
## جنګنامه

د : محمد غلا م غلا مي کهستا ني . خپر و ونکي : انجمن تاریخ .
د خپرېدو کال : ۱۳۳٦ ، د ولتي مطبعه . دخپر ېدو نمبر : « ۴۸ » .
مخو نه : ۲۱۰ قطع : ۱٦ نیم × ۲٦ سم .

موضوع: دنولسمی پېړۍ دلومړۍ نیمایی دور وستیولسو کلونو په شروکی دانګریزانو سره دمیر مسجدی خان او نورو ملی مجاهدینو او مبارزینو دمبارزو منظوم داستان دی چی تاریخ تولنی د یوه کتهور متن په حیث خپور کړی دی .

( ۵۵)

## پادشاهان متأخر افغانستان (دوهم ټوک)

تألیف : میرزا یعقوب علی خافی . خپرو ونکی : انجمن تاریخ . د خپرېد وکال : ۱۳۳۶ دولتی مطبعه . د خپرېد ونمبر : « ۴۹ » مخونه : ۱۹۶ قطع : ۱۷ نیم × ۲۶ سم .

موضوع : د لومړی ټوک د مطالعوا دامه د امیرحبیب الله خان تردورې پورې پکی تعقیب شوې ده .

( ۵٦)

## افغانستان درقرن نزده

مؤلف : سید قاسم رښتیا. خپرو ونکی : انجمن تاریخ . دخپرېدو کال : ۱۳۳٦ : دولتی مطبعه ( دوهم چاپ ) .دخپرېدو نمبر : « ۵۰ » مخونه : ۲٦۳ قطع : ۱۷ × ۲٦ سم .

موضوع : دنولسمی پېړۍ له شرو ترپایه پورې دسدوزیو او محمد زیو کورنی شخړې ، دانګریزانو دوه لومړنی تجاوزونه ، د پیلو- پیلو پاچاپانو د سلطنت دورې او ددې دورې نورې پېښې پکې څېړلی شوې دی .

( ۵۷ )

## بالاحصار کابل
## و پیش آمد های تاریخی
## ( لومړی ټوک )

لیکونکی: احمدعلی کهزاد. خپرونکی: انجمن تاریخ افغانستان. د خپریدو کال ۱۳۳۶ ، دولتی مطبعه . د خپرېدو نمبر : « ۵۱ ».
مخونه : ۳۱۶ قطع : ۲۶ × ۱۸ سم.
موضوع : د کابل دبالا حصار په تاریخی سوابقو رڼا اچوله شوې، د کابل د مشهورو غـرونو شیردروازه او آسمایی له دیوا لونو نه یی لـه بالا حصار سره مربوطی پېښی تـر ۱۱۵۱ ه ق کال پورې چی بالا حصار د نا درافشار په لاس ورانیزی را رسولی دی او لومړی ټوک همدلته ختمیږی .

( ۵۸ )

## میرزاعبدالرحیم رحیمی

لیکونکی: عبد الله بختانی، خپرونکی: انجمن تاریخ افغانستان. د خپرېد وکال ( ۱۳۳۶ ) دولتی مطبعه . د خپرېدو نمبر : نه‌لری .
مخونه ۶۲ قطع : ۱۷ نیم × ۲۵ نیم سم .
موضوع: دمیرزا عبدالرحیم رحیمی چی یومعاصر مخور او شاعر دی ، دژوند پېژندنه او د کلام نمونې پکی راغلی دی .

( ۵۹ )

## تا یان

( دری ــ انگلیسی )

لیکوونکی: چینی مؤرخ ته ماچه ین . ژباړونکی : احمد علی کهزاد ، دخپرېدو کال ( ۱۳۳۷ ) د دولتی مطبعه . د خپرېدو نمبر : « ۵۳ » . مخونه : ۲۴ + ۲۰ = ۴۴ قطع : ۱۷ نیم × ۲۵ نیم سم.

موضوع: د «شی چی» یاتاریخی اسنادو ۱۲۳ فصل دی چی د چین دایلچی « چانگ چی ین » مغه یاد داشتونه دی چی دوه زره کاله وړاندې یی دافغانستان ځینی برخی لید لـی او چینی مؤرخ د تایان په نامه لیکلی دی .

( ٦۰ )

## درة الزمان
## فی تاریخ شاه زمان

لیکوونکی : عزیزالدین وکیلی فوفلزائی . خپرونکی : انجمن تاریخ . دخپرېدو کال ۱۳۳٦ دولتی مطبعه . دخپرېدو نمبر : « ۵۴ » . مخونه : ۲۷۰ قطع : ۱۷ × ۲٦ نیم سم .

موضوع : دزمانشاه درانی دژوندانه بېل بېل اړخونه پکې ځېړل شوی او دده دوخت په سیاسی ، ادبی ، اجتماعی ، علمی اونورو او ضاعو رڼا اچول شوې ده .

( ٦۱ )

## استخراج تاریخ درنظم

لیکوونکی : محمد ابراهیم خلیل . خپرونکی : انجمن تاریخ .

دخپریدو کال: ۱۳۳۷ ، دولتی مطبعه . دخپرېدو نمبر: «۵۵» . مخونه: ۱۱۱ قطع : ۱۷ × ۲۰ سم .

موضوع : په نظمکی دځینی تاریخونواستخراج ، دتاریخ د استخراج بېل - بېل دو لونه اونمونې چی ټول کتاب په دوو لسو « گلونو»ویشل شوی او د تاریخ د استخراج بېل - بېل دو لونه او طریقې پکی ښېرل شوی دی.

## ( ٦٢ )

## دافغانستان دمعاصر تاریخ په گوښو کی

## ( انگلیسی )

لیکونکی: احمدعلی کهزاد. خپرو ونکی: تاریخ ټولنه. دخپرېدو کال: ( ۱۳۳۷ )دولتی مطبعه . دخپرېدو نمبر: « ٥٦ » . مخونه: ۱۲۲ قطع : ۱۷ × ۲٦ سم .

موضوع : د ښاغلی کهزاد دهغی اثر انگلیسی ژباړه ده چی د «در زوایای تاریخ معاصر افغانستان» پهنامه خپور شوی او پههمدې فهرست کی معرفی شوی دی .

## ( ٦٣ )

## دافغانستان دلیدو وړ ځایونه

## (فرانسوی)

لیکونکی: محمدنبی کهزاد . خپرو ونکی: تاریخ ټولنه. دخپرېدو کال: ( ۱۳۳۷ )، دولتی مطبعه . دخپرېدو نمبر: نه لری . مخونه: ۲۰ قطع : ۱۷ نیم × ۲۵ نیم سم .

موضوع : د افغانستان د ليدلوو ر ځايونو په برخه کې خارجي علاقمندانو ته لارښوونه شوې او د افغانستان تاريخي ځايونه پکې پېژندل شوي دي.

## (٦٤)

# په افغانستان کې د اسلام خپريدل

ليکونکی : مير غلام محمد غبار . پښتو کوونکی : گل پاچا الفت . خپرو ونکی : تاريخ ټولنه . د خپرېدو کسال : ١٣٣٨، دپوهنې مطبعه دخپرېدو نمبر : « ٦٣ ». مخونه : ٩٠ قطع : ١٨ نيم × ٢٤ سم .

موضوع : افغانستان ته دعربو راتګ، ددې ځای دخلکو له خوا داسلام منل او د عربو او افغانانو تر منځ دجګړو پېښې ځېرلې شوې او دا په حقيقت کې د افغانستان د مسلسل تاريخ د دريم ټوک لومړی فصل دی . داهم بايد و وايو سره له دې چې تاريخ ټولنې دافغانستان دټول تاريخ په پښتو کول په نظر کې درلودل خو له دې سره د افغانستان دتاريخ دپښتو کولو سلسله قطع شوې ده او په وروسته برخو کې يوازې هوتکيان پښتو شوي چې په خپل ځای کې به معرفي شي .

## (٦٥) ✓

# مزارات شهر کابل

